د افغانستان اسلامي امارت
د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت
د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست
دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد
دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

**۱۲/ ربيع الثاني/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۳/ ميزان /۱۴۰۵هـ، ش**

# د موټر چلوونکو او پياده کسانو ترافيکي مسئوليتونه، او د بې احتياطۍ دنيوي او اخروي زيانونه!

بسم الله الرحمن الرحيم

بسـم الله والحمدلله والصـلاة والسـلام على أشرف الأنبياء وخاتم المرسـلين سـيدنا محمد النبي المصـطفى الأمين ، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

فقد قال الله ســبحانه وتعالى في مُحكم كتابه وهو أصــدق القائلين:( وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُــونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَــلامًا * وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُــجَّدًا وَقِيَامًا * وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا).[۱]

**درنو حاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

مونږ او تا سې وخت په وخت خبريږو چې د موټرو تـصادم او ټکرونه زيات شوي دي، چې په ډيرې بې باکی سره پاک ارواح د موټرو د تصــادم په نتيجه کې مړه کيږي او ګڼ شــمير مالي زيانونه خلکو ته اوړي ، د همدې امله زموږ د نن جمعې د تقرير موضوع ( د موټر چلوونکو او پياده کسانو ترافيکي مسئوليتونه، او د بې‌احتياطۍ دنيوي او اخروي زيانونه ) ټاکل شوی ده. دا موضوع يوازې د ترافيکو موضوع نه ده؛ بلکې د اسلامي اخلاقو، د انسان د ژوند د حرمت، د امانت، مسئوليت او د خلکو د حقوقو موضوع هم ده.

نن سبا موټر د انسان د ژوند يوه مهمه وسيله ګرځېدلې ده. خلک پرې خپلو کارونو، بازارونو، ښوونځيو، روغتونونو، جوماتونو او نورو ځايونو ته ځي. الله تعالی انســان ته د تګ راتګ او انتقال لپاره ښلابېلې وســيلې ورکړې دي.الله تعالی فرمايي:(وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ).[۲]

ترجمه: او (پيدا کړي دي الله) آسونه او قچرې او خره لپاره د دې چې سوريږئ تا سې په دوی باندې او (زينت کوئ پر دغو ) په زينت کولو سره،او پيدا کوي (الله ډير نور) څيزونه چې اوس يې نه پيژنی تاسې.

[۱] - الفرقان: ( ٦٣-٦٥)
[۲] -النحل: ( ٨)

د دې آيت له عمومي مفهوم څخه معلومېږي چې د سـفر او انتقال وسـايل د الله تعالی له نعمتونو څخه دي. خو هر نعمت مسئوليت هم لري. موټر نعمت دی؛ خو که په بې‌احتياطۍ وچلول شي، د مرګ، ټپي کېدو، معلوليت، مالي تاوان، کورني غم او د نورو د تلف کېدو وسيله ګرځي.

که يو موټر چلوونکی په بې‌احتياطۍ سره دا سې موټر چلوي چې د خلکو ژوند په خطر کې اچوي، نو دا يوازې «شخصي کار» نه دی؛ بلکې دا د نورو کسانو ژوند او مال د خطر سره مخ کوي. بناءً د موټرو د تصادمونه، ټکرونه او د پاکو ارواحو اخيستل يو لړ اسباب لري چې هر موټر چلوونکی او پياده تلونکي کسان مسئوليت لري چې له هغې څخه ځانونه وساتي او ترافيکي قوانين رعايت کړي.

نو موټر چلوونکی يوازې د خپل ځان مسـئول نه دی. په سـړک کې نور موټر چلوونکي، سـپين ږيري، ښـځې، ماشـومان، ناروغان، پياده کسان

او مسافر هم د هغه د احتياط حق لري. که يو موټر چلوونکی د خپلې بې‌احتياطۍ له امله بل انسان مړ کړي يا يې ټپي کړي، مسئله يوازې «حادثه وشوه» نه ده؛ بلکې د انسان د مرګ مسئله هم ده.

د موټرچلوونکي مسئوليتونه:

**۱- د موټر چلولو پر مهال د سرعت مراعتول.**

د موټر چلوونکي لومړی مسـئوليت دا دی د موټر چلولو پر مهال له احتياط څخه کار واخلي او د سـړک، هوا، ګڼه‌ګوڼې او د خلکو د حالت مطابق سرعت انتخاب کړي. دا چې موټر چټک تللی شي، دا ددې معنا نه ده چې موټر چلوونکی به په هر ځای کې موټر په سرعت سره چلوي. بلکې د موټر چلوونکي مسـئوليت دی چې موټر په ارامه او د ترافيکي قوانينو په نظر کې نيولو سره وچلوي؛ ځکه ډيری وخت تيز او په سرعت سره موټر چلول د ځان او د نورو د هلاکت سبب ګرځي. الله تعالی فرمايي:(وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ).[۳]
ترجمه:او مه غورځوئ ځانونه خپل په هلاکت کې
که څوک په داسې سرعت موټر چلوي چې د ناڅاپي پېښې پر وخت يې د موټر د درولو يا کنټرول توان له لاسه وزي، نو دا د ځان او نورو د خطر سبب ګرځي. هر هغه سبب او کار چې باعث د انسان د مرګ کيږي الله تعالی ورڅخه منع کړی ده .
امام نيشاپوري ددې آيت په تفسير کې وايي: (التهلكة كل شيء تصير عاقبته إلى الهلاك ).[٤]
ژباړه: التهلكة هر هغه شي ته ويل کيږي چې انجام يې هلاکت وي.
**۲- د پياده کسانو د حق مراعتول.**

سرک يواځې د موټر چلوونکي حق نه دی ، بلکې موټر چلووونکی دي په دې پوهه شي چې سرکونه د مسـلمانانو داسـتفادې لپاره جوړ شـوي دي او پياده انسـان هم په لاره او سـړک د تللو حق لري. موټر چلوونکی بايد په ځانګړې توګه د: ښـوونځيو؛ جوماتونو؛ بازارونو؛ روغتونونو؛ د خلکو د تګ راتګ په ځايونو؛ د پياده کسـانو د تېرېدو په ځايونو؛ او د ماشـومانو په سـيمو کې له ډېر احتياط څخه کار واخلي.

[۳] - البقرة:( ۱۹۵)
[٤] - الكشف والبيان ـ موافق للمطبوع (۲/ ۹۰)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ، فقالوا مالنا بد انما هي مجالسنا نتحدث فيها، قال فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلاَّ الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ. قالوا : وما حق الطريق؟ قال: غَضُّ الْبَصَرِ، وَكَفُّ الأَذَى، وَرَدُّ السَّلاَمِ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ».(٥)

ژباړه: ځانونه و ساتئ په لارو کې د کینا ستو څخه. صحابه وو ورته وویل چې موږ هلته پر نا سته باندي مجبوره یو، هغه زموږ د ناســتي ځای دی ، هلته موږ خبري کوو. که چیرې بیا هم تاســې په لارو کې کیناســتل غواړی ، نو د لارې حق ادا کړئ. صحابه وو پوښتنه وکړه: د لارې حق څه دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د سترګو ښکته کول، له اذیت څخه ځان ساتل، سلام ځوابول، په نېکی امر کول او له بدی څخه منع کول.

که د لارې په اړه دا مسئولیتونه د سړک پر غاړه ناستو خلکو ته شته، نو د هغه چا مسئولیت خو لا ډېر دی چې په سلګونو کیلو وزن لرونکی موټر په لوړ سرعت چلوي.

لکه څرنګه چې موټر چلوونکي په سرکونو او عمومي لارو د تللو حق لري، دارنګه د پیاده تلونکي کسان، د بایسکل چلوونکي ، موټرسیکل چلوونکي هم په سرکونو کې د خپلو وسائطو دچلولو حق لري.

نو څوک چې موټر چلوي باید په سرک باندې د تللو د حق ترڅنګ ورباندې لازم دي چې چا ته زیان ونه رسوي.

فقهاء کرام لیکي:(الْمُرُورَ في طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ مُبَاحٌ بِشَرْطِ السَّلاَمَةِ ).(٦)

ژباړه: د مسلمانانو په لاره تلل مباح دي ، خو په شرط د سلامتیا .یعني چې چاته به زیان نه رسوي.

**٣- د موټر چلولو پر مهال د موبایل استعمالولو څخه ځان ساتل.**

اکثره ترافیکي پیښې هغه وخت رامنځته کیږي چې موټر چلوونکي په مبائلونو کې په خبرو بوخت وي، ددې وجې نه د ترافیکي پېښــو له خطرناکو لاملونو څخه یو د موټر چلولو پر مهال د موبایل اســتعمال دی. یو څو ثانیې موبایل ته کتل کېدای شي د انسانانو ژوند واخلي.

د موټر چلولو پر وخت د موبائل اسـتعمال ځان او نورو ته د ضرر رسـولو لامل کیږي او د اسـلام مبارک دین ځان او نورو ته د ضرر رسـولو څخه منع کړی ده. په حدیث شریف کې راځي. عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَضَى أَنْ لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضِرَارَ».(٧ )

ژباړه: د عباده بن صـامت رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسـول الله ﷺ فیصـله وکړه چې (په اسـلام کې) نه ځان ته ضرر رسول شته او نه بل ته ضرر رسول شته.

دا حدیث شریف د ا سلامي فقهې له سترو قواعدو څخه هم ګرځېدلی دی.نو د موټر چلولو پر مهال د موټر چلوونکو مسئولیت دادی چې: دوی به موبایل نه کاروي؛ دوی به پیغام نه لیکي؛ دوی به ویډیو نه ګوري؛ دوی به د موبایل سکرین ته نه ګوري.

---

٥ - متفق علیه/بخاري (٢٤٦٥)

٦ - البحر الرائق (٨/ ٤٠٦)

٧ - سنن ابن ماجه (٢/ ٧٨٤)، مسند أحمد مخرجا (٥/ ٥٥)

**۴- د نشې، خوب او سختې ستړیا په حالت کې د موټر چلولو څخه ځان ساتل.**

ځینې وخت چې سفر طولاني وي موټر چلوونکي باندې خوب غلبه کوي او یا د نشې له وجې په خپل ځان باندې پوره کنترول نلري او یا دومره ستړی شي چې د موټر په درست چلولو باندې پوره حاکمیت له لاسه ورکوي او په نتیجه کې د بل موټر سره تصادم کوي او یا سرک خطا کوي او په خامه او وخیمه لار باندې ور سیده کیږي او موټر چپه کیږي او په کې نا ستو سپرلیو ته مرگ ژوبله اوړي او موټر هم زیانمنیږي. نو د موټر چلوونکو دا مسئولیت دی چې د نشې په حالت کې ، د خوب د غلبې په حالت کې او یا د زیاتې ستړیا په حالاتو کې د موټر له چلولو ډه ډه وکړي ترڅو خپله هم سالم پاتې شي او نور خلک هم سالم پاتې شي.

دا چې نشيي توکي نشه راولي او په وجود کې سستي پیدا کوي چې زیات خطرات لري په ا سلامي شریعت کې ورڅخه منع راغلې ده. په حدیث شریف کې راځي. عن أمِّ سـلمة، قالت:« نهى رسـولُ الله - صـلَّى الله عليه وسـلم - عن كُلِّ مُسْـكِرٍ ومُفَتِّرٍ».[۸]

ژباړه: ام سلمه رضي الله عنها وایي چې نبي علیه السلام منع کړې ده د هر نشه آور شي څخه او د هر سستوونکي شي څخه.

موټر چلوونکو مسئولیت دی چې د چرسو او افیونو له استعمال څخه ځانونه وساتي ځکه چې دا دواړه عقل زائلوي او انسان نشه کوي.

علامه علاء الدین الحصکفي رحمه الله لیکلي دي: ( ويحرم أكل البنج والحشيشة ) هي ورق القتب ( والأفيون ) لأنه مفسد للعقل).[۹]

ژباړه: او حرام دي خوړل د بنگو او چرسو او آفیونو ځکه چې دا هر یو د عقل فاسدوونکي دي.

امام نووي رحمه الله لیکي:(وأما ما يزيل العقل من غير الأشربة والأدوية كالبنج وهذه الحشيشة المعروفة).[۱۰]

ژباړه: او هغه څه چې عقل زائلوي علاوه د شرابو او دواگانو څخه هغه بنگ دي او دا معلوم چرس دي.

نو څوک چې پوهیږي چې دومره ستړی یا خوبولی دی چې د موټر کنترول نه شي کولای، باید موټر ونه چلوي.

همدارنگه نشه کوونکي مواد او هغه څه چې د انسان عقل او هوښیارتیا له منځه وړي، په اسلام کې حرام دي.

**۵—د شرطې( ترافیکي) په قوانینو عمل کول .**

اکثره ترافیکي پیښې په دې وجه رامنځ ته کیږي چې موټر چلوونکي د شرطي مرور (ترافیکي) په قوانینو عمل نه کوي لکه په سره اشاره تیریدل ، په مزدحمو ځایونو کې تیز او په سرعت سره موټر چلول، د موټر چلوونکي د موټر چلولو جواز نه درلودل، په بدل لاس باندې موټر چلول او داسې نور.

---

۸ - سنن أبي داود ت الأرنؤوط (۵/ ۵۲۹)

۹ - الدر المختار (۷/ ١٤)

۱۰ - المجموع (۳/ ۹)

بناءً په موټر چلوونکو باندې واجب دي چې د شرطې مرور (ترافيکي ) قوانينو باندې عمل وکړي او ځان نور د مالي  او ځاني زيانونو څخه وساتي.

حکومت چې د خلکو د ژوند د ساتنې لپاره کوم مروري / ترافيکي قوانين وضع کړي دي،

پر هغو عمل کول او هغه د موټرچلولو پر وخت واجب دي په هغو قوانينو عمل کول چې حاکم نظام يې د خلکو د مصـالحو او د ضرر د مخنيوي،

د نظم او عامه مصلحت په خاطر وضع کوي رعايتول يې واجب دي. الله تعالى فرمايي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ).[١١]ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله) او (حکم ومنئ ) د خاوندانو د حکم له تاسې(مسلمانانو يعني حاکمانو او مشرانو)

مســلمان حاکم تل د ولس د حفاظت او د عمومي نظم د رعايت په خاطر داســې قوانين او فرامين تصــويبوي چې د شريعت خلاف نه وي، چې پر دغو قوانينو عمل کول په ټول ولس باندې لازم دي.لکه چې په فقهې قاعده کې راځي.(تَصَرُّفُ الْإِمَامِ عَلَى الرَّعِيَّةِ مَنُوطٌ بِالْمَصْلَحَةِ).[١٢]

ژباړه: د امام (د مسلمانانو امام ) تصرف د رعيت په حق کې په مصلحت پورې تړلی وي.

د مجمع فقهې علماوو هم په ترافيکي قوانينو باندې د التزام په هکله داســې قرار تصــويب کړی دی:( أن الالتزام بتلك الأنظمة التي لا تخالف أحكام الشريعة الإسلامية واجب شرعا، لأنه من طاعة ولي الأمر).[١٣]

ژباړه: په هغو قوانينو التزام چې د شريعت سره مخالفت نلري شرعاً واجب دی، ځکه چې دا د ولي الأمر له طاعت څخه دی.

**٦- د موټر تخنيکي سلامتيا ته پاملرنه.**

موټر يوه وسيله ده که چيرې په احتياط ونه چلول شي او د موټر تخنيکي اړخونه ونه کتل شي ، د چپه کيدو ، خرابيدو ، د ټکر لامل او د بريک د خرابۍ په صورت کې د خلکو د وژلو سبب کيدی شي.

د اسلام مقدس دين مونږ ته د اسبابو د استعمال امر کړی دی او فرمايلي يې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ).[١٤]

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی واخلئ تاسې سامان خپل د حفاظت.

مفسرين ددې مبارک آيت په تفسير کې وايي:(  الحذر: الاحتراس والاستعداد لدفع المكروه بحسبه).[١٥]

ژباړه: الحذر: د ځان حفاظت او د بد کار ددفع کولو لپاره اماده ګي نيولو ته ويل کيږي.

---

١١- النساء:( ٥٩)

١٢ - غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر للحموي (٢/ ٢٨٩)

١٣ - مجلة مجمع الفقه الإسلامي (٢/ ١٦٣٩٣)

١٤ -النساء: (٧١)

١٥ - أيسر التفاسير للجزائري (١/٥٠٦)

ځيني کسـان وايي چې موټر چلول په توکل سره کيږي ، دا درسـت ده چې مونږ بايد په هر کار کې په الله تعالی توکل وکړو ، خو د اسـبابو اسـتعمال او کار لپاره چمتو والی د توکل خلاف عمل نه دی. په يو حديث شريف کې راځي:عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أُرْسِلُ رَاحِلَتِي وَأَتَوَكَّلُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَلْ قَيِّدْهَا وَتَوَكَّلْ».(١٦)

ژباړه: جعفر بن عمرو بن اميه د خپل پلار عمرو بن اميه ضمري رضي الله عنه څخه روايت کوي، عمرو بن اميه ضمري رضي الله عنه وايي چې ما وويل ای د الله رسوله! آيا زه لومړی خپله سپرلی پريږدم او توکل وکړم ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: نه ، بلکې خپله سـپرلۍ لومړی وتړله او بيا توکل وکړه. نو د موټر چلوونکو مسـئوليت دی چې لومړی: بريکونه؛ ټايرونه؛څراغونه؛ ستيرنگ؛ هنداره؛ او نور ضروري وسايل چک کړي او وه گوري او بيا حرکت وکړي. که څوک پوهيږي چې د موټر بريک خراب دی او بيا يې په گڼه گوڼه کې چلوي، نو د خطر مسئوليت يې ډېر زياتيږي.

**۷- دموټر چلوونکي مسئوليت دی مخکې له دې چې دموټر چلولو پر مهال لاندې کارونه انجام کړي:**

لومړی: د الله تعالی د نعمت شکر ادا کړي.

دوهم: له موټر چلولو مخکې د موټر تخنيکي حالت وگوري.

دريیم: د سړک لپاره د ټاکل شوي سرعت اندازه مراعات کړي.

څلورم: په سرک باندې د موټر چلولو پر وخت له مسابقې کولو څخه په کلکه ځان وساتئ.

پنځم: د موټر چلولو پر مهال موبايل ونه کاروي.

شپږم: د موټر کمربند وتړي او د ماشومانو د خونديتوب وسايل، د امکان او قانون مطابق، استعمال کړي.

اووم: د بل موټر چلوونکي له تېروتنې وروسته په غوسه کې خطرناک تعقيب، سبقت يا سيالي ونه کړي.

اتم: موټر چلوونکی بايد تل په زړه کې دا تصـور ولري، چې زموږ په موټر کې د انسـانانو ژوند زما سره يو الهي امانت دی او په دنيا او آخرت کې يې په اړه زما څخه پوښتنه کيږي.

**د پياده کسانو مسئوليتونه:**

مسئوليت يوازې د موټرچلوونکي پورې تړاو نلري ؛ بلکې پياده کسان هم مسئوليتونه لري چې ځيني يې په لاندې ډول دي:

**۱- د سړک څخه د تېرېدو پر مهال احتياط کول.**

د پياده کسـانو مسـئوليت دی چې ناڅاپه د موټر مخې ته ونه وځي او چې کله سـړک ته وځي، نو بايد په احتياط سره ووځي، ځکه چې دا د پياده کسـانو مسـئوليت دی چې خپل ځان او نور خلک له خطراتو څخه وژغوري. الله تعالی فرمايي:(وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ) بل الله تعالی د هغو خلکو صفت کړی دی چې په سکون او ارامۍ سره په لاره تلل کوي.

---

١٦ - المستدرك للحاكم، وقال الذهبي: اسناده جيد.(٣/ ٧٢٢)

الله تعالی فرمایلي دي: (وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا). [١٧]

ترجمه:او بنده گان د رحمان هغه کسان دي چې ګرځي دوی په ځمکه باندې په ورو (په تواضع).

نو پیاده کسان چې په سرک تیریږي باید هر لورې ته پام وکړي او ځان مطمئن کړي چې موټر خو به نه وي.

**٢- د سړک د تېرېدو مناسب ځای استعمالول.**

که چیرې د پیاده کسـانو لپاره په سرک د تیریدو پر وخت پُل، کراسـنګ یا ټاکلی ځای موجود وي، ددوی مسـئولیت دی چې باید هماغه استعمال کړي.په ځانګړې توګه: ماشومان؛ سپین ږیري؛ ناروغان؛ معلول کسان د سړک په سر او دسرک څخه د تیریدو پر مهال د خاص احتیاط څخه کار واخلي.

**٣- ماشومانو ته د ترافیکي آدابو ښوونه.**

اکثره وخت ماشومان د ترافیکي پیښنو ښکار کیږي ، نو د مور او پلار او د کور د مشرانو او په مدرسه او ښوونځي کې د استادانو او مدرسـینو مسـئولیت دی چې ماشـومان دموټرو خطر ته متوجه کړي او ورته ووایي چې د سرک په یوه غاړه لاړشي او کوم هلکان چې بایسیکل چلوي هغه ته په کلکه توصیه وکړي چې بایسیکل په مشخص خط او یا د سړک په غاړه وچلوي.

رسـول الله ﷺ فرمایلي:« كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْـئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ ».[١٨] ژباړه: هر یو له تاسـې سـاتونکي یاسـت او له هر یو له تاسې مسئول دی د خپل رعیت په هکله.

مور او پلار باید خپلو ماشومانو ته ووایي چې: په سړک کې لوبې مه کوئ ؛ ناڅاپه سړک ته مه وځئ؛ د روانو موټرو تر منځ مه تیریږئ؛ پر سړک د تېرېدو مخکې دواړو خواوو ته و ګورئ؛ د پیاده تګ لپاره ټاکل شوی ځای استعمال کړئ.

**د موټر چلوونکو او په پیاده تلونکو د بې‌احتیاطی دُنیوي او اُخروي زیانونه:**

د موټرچلوونکي یوه لحظه بې‌احتیاطي کېدای شي: د یوه انسـان د مرګ سـبب شي؛ د یوه ماشـوم ژوند ختم کړي؛ یو انسـان معلول کړي؛ د یوی کورنۍ سرپرست له منځه یوسي؛ د کورنۍ اقتصادي ستونزې پیدا کړي. چې دا ټول هغه جرمونه دي چې دنیوي او اخروي سزاګانې لري . د موټر او نورو مالونو د خرابېدو سبب شي؛ د خلکو تر منځ دښمني پیدا کړي؛ او د انسان لپاره د قانوني او مالي مسئولیت سبب شي.

که څوک په موټر څوک ووهي ،نو حالاتو ته په کتو کیدای شي چې موټر چلوونکی په بند محکوم شي، یا کیدای شي چې دیت وربانديې لازم شي.

که چیرې موټر په بې احتیاطۍ سره وچلول شي ممکن چپه شي او مالک د لوی زیان سره مخ شي، یا د بل موټر سره تصـادم وکړي او د ملامتۍ په صورت کې د دواړو موټرو تاوان وربانديې را واوړي .

---

[١٧] -الفرقان: (٦٣)

[١٨]- صحیح مسلم (٦/ ٧)

که یو څوک په قصـــدي ډول یا د داســـې غفلت له امله چې باید ځان یې ورڅخه ســـاتلی وای، د خلکو ژوند او مال ته زیان ورسـوي، نو د دنیا له قانوني مسـئولیت سر بېره د آخرت مسـئولیت هم مطرح کېږي؛او د دقیق شرعي حکم اندازه د پېښــې د حالاتو، قصد، عرف او د ضرر د څرنګوالي له مخې د اهل علم له خوا ټاکل کېږي.

په بې باکۍ سره او بدون د جواز څخه موټر چلول د مســـلمانانو مالونو هلاکول دي او دا د منافقانو خصـــلت دی. الله تعالی فرمايي:(وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ الْفَسَادَ).([19])ترجمه:او کله چې بېرته وګرځي (له تانه ای محمده) نو ګړندی ګرځي په ځمکه (د مدینې) کې لپاره د دې چې فســـاد وکړي په ځمکه کې او هلاک کوي کښت (فصل) او ساکښان (ذی روح) (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چې الله نه خوښوي فساد (او معصیت).همدارنګه که څوک موټر په بې احتیاطۍ وچلوي او دده د بې احتیاطۍ په وجه څوک ووهي او هغه مړ شي ، نو موټر چلوونکی قاتل شـو او دانسان قتل ډېره لویه ګناه ده.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(مَنْ قَتَلَ نَفْساً بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعاً وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعاً).([20])

ترجمه:هر څوک چې ووژني یو نفس بی له (عوض،بدل د )بل نفس نه (یا بې) له فســاده په ځمکه کې (چې په ملک کې یې فساد کړی وي) نو ګواکي وژلی یې دي خلک ټول ، او هر چا چې ژوندی کړو دغه (یو نفس چې سبب شوی د ژوندون یې) نو ګواکي ژوندي کړي يې دي خلک ټول.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ددې مبارک آیت په تفسیر کې وايي:( من قتل نفسا واحدة وانتهك حرمتها فهو مثل من قتل الناس جميعاومن ترك قتل نفس واحدة وصـــان حرمتها مخافتي واســـتحيا ها أن يقتلها فهو كمن أحيا الناس جميعا).([21])

ژباړه: څوک چې یو نفس ووژني او د هغه حُرمت ولوټي دا په شان د هغه چا دی څوک چې ټول خلک ووژني او چاچې د انسان وژل پرېښودل او د هغه د حُرمت ساتنه يې وکړه زما د ويرې او زما څخه د حياء په وجه يې ونه وژلو دا کس په شان داسې دی لکه چې ټول انسانان یې ژوندي پرېښي وي.

نو که د یوه انســـان ژوند ژغورل دومره ســـتر اجر لري، د یوه بې‌ګناه انســـان ژوند په بې‌احتیاطۍ له منځه وړل څومره لوی مسئولیت لري؟

همدارنګه په بې احتیاطۍ سره موټر چلول او خلکو ته مالي او ځاني زیان رســـول پر انســـانانو ظلم کول دي او الله تعالی د ظالمانو په باره کې فرمايي:(وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ).([22])

ژباړه:او ودروئ دوی (په دغې لارې کې) بېشکه دوی پوښتېدلي دي(یعني ترې پوښتنه کیږي د اقوالو او افعالو د دوی.)

[19] -البقرة: (٢٠٥)
[20] -المائدة:(٣٢)
[21] - المحرر الوجيز - موافق للمطبوع (٢/ ٢١٢)
[22] - الصافات:( ٢٤)

الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې فرمایي:( فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ * عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ).[۲۳]

ترجمه: نو قسم دی په رب ستا چې خامخا وبه پوښتو مونږ خامخا دوی ټول (په ورځ د قیامت) د هغو اعمالو (د قسمت یا نسبت) څخه چې وو دوی چې کول به یې.

دا باید هیر نکړو چې د انسان ژوند د الله تعالی ستر امانت دی او الله تعالی ددې امانت د حفاظت سپارښتنه کړی ده او د هغو اسبابو څخه یې منع فرمایلې ده چې له امله یې د ځان یا د بل مسلمان د مرگ سبب گرځي.الله تعالی فرمایي:(وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا).[۲۴]

ترجمه: او مه وژنئ تاسې سره ځانونوه خپل (یعنې یو بل ، یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې دهلاک سبب وي) بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان. همدارنگه په یو بل مبارک آیت کې فرمایي:(وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ).[۲۵]

ترجمه:او مه وژنئ تاسې نفس هغه چې حرام کړي دی الله ( وژل د هغه) مگر په حقه سره (چې ارتداد او زنا مع الاحصان او قصاص دی).

د بل مسلمان او انسان ژوند هم محترم دی رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي:«كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ».[۲۶]

ژباړه: په هر مسلمان د مسلمان وینه، مال او عزت حرام دي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي. عن عبد الله بن عمرو عن النبي صلى الله عليه و سلم قال :« لزوال الدنيا أهون عند الله من قتل رجل مسلم».[۲۷]

ژباړه: دحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خامخا زوال ددنیا ډیر اسان دی د الله تعالی په نزد د مسلمان سړي د وژلو څخه.

**نو ورونو!** موټر چلول یوازې مهارت نه دی، دا امانت او مسؤولیت دی. کله چې موټر چلوو، باید قوانین مراعت کړو، تلوار ونه کړو، د موټر چلولو پر مهال ټلیفون کارول پرېږدو، او پوه شو چې د خلکو او زموږ خپل ژوند زموږ په لاسونو کې د الله تعالی امانت دی.

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

[۲۳] - الحجر:( ۹۲-۹۳)

[۲۴] - النساء:( ۲۹)

[۲۵] - الإسراء:( ۳۳)

[۲۶] - صحیح مسلم (۸/ ۱۰)

[۲۷] - سنن النسائي (۷/ ۸۲)